ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ڈاکٹر شکریہ قادر**

اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، عبد الولی خان یونیورسٹی، مردان کے پی، پاکستان

# د پروفېسر ډاکټرسلمې شاهين په شاعرۍ کښې د ښځينه نفسياتي ستونزو عکاسي يوه اجمالي جائزه

**Dr. Shukria Qadir***
Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, KP, Pakistan.

***Corresponding Author:**

## An Overview of the Depiction of Women's Psychological Problems in the Poetry of Professor Dr. Salma Shaheen

The number of female writers is very less than the male writers in Pashto literature. The main reason for article the restrictions on women in Pashtun society. Nevertheless, Pashtun women have played an important role in promoting of Pashto literature. Although social restrictions were imposed on them, but they got a modern education and raised voice for their rights. There was also a right to freedom of expression. Besides ordinary women, female writers also came forward to achieve the goal. One of them is Dr. Salma Shaheen. She has described many aspect of Pashtun society. In which the issues of Pashtun women have been discussed with great boldness. This article highlights the social and psychological issues of Pashtun women described in Dr. Salma Shaheen's poetry.

**Key Words:** *Female Writers, Pashto Literature, Modern Education.*

پروفېسر ډاکټر سلمې شاهين د پښتو ادب هغه پياوړې ليکواله ده چې د پښتو په ګڼو اصنافو کښې ئې دخپلو تخليقي صلاحيتونو زور ښکاره کړے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

دے - هغې که په فولکلور کښې تحقیقي کار کړے دے -نو افسانې ئې لیکلي دي -دغسې که په ناول لیکنه ئې طبعه ازمائي کړې ده -نوپښتو ادب ته ئې په مضامین ، مقالو او نورو نثري اصنافو کښې هم ډېر څه بخښلي دي. دې نه علاوه د یو شاعرې په حېث هم د هغې افکار او خدمات د چا نه پټ نهٔ دي - پروفېسر شاه جهان صاحب د هغې د ژوند حال او ادبي کارنامې په خپل کتاب "پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه" کښې داسې بیان کړي دي - هغه لیکي!

> "پېغله سلمیٰ شاهین د کال ۱۹۵۵ء د اپریل په شپاړسمه د مردان په یوې معززې کورنۍ کښې د امیر محمدؐ خان کره په بغداده نومې کلي کښې پېدا شوې ده - د دوي کورنۍ د ډېر پخوا راسې یوه سیاسي او ادبي کورنۍ ده - د پېغلې سلمیٰ شاهین د لیک لوست سره د وړوکوالي نه ډېره مینه وه او په وړوکوالي کښې به ئې د هر قسم کتابونه لوستل چې پکښې د تاریخي او مذهبي کتابونه شامل دي - پېغلې سلمیٰ شاهین ابتدائي تعلیم په بغداده کښې حاصل کړے دے او لسم جماعت ئې د مردان ګرلز هائي سکول نه په کال ۱۹۷۱ء کښې پاس کړے دے - د وړاندې تعلیم د پاره ئې په ګرلز کالج مردان کښې داخله واخسته او ددغه ځایه ئې د دولسم جماعت امتحان په کال ۱۹۷۳ء کښې او د څوارلسم جماعت امتحان ئې په کال ۱۹۷۵ء کښې پاس کړو - پېغلې سلمیٰ شاهین د پښتو ژبې او ادب سره ډېره بې کچه مینه ده - او هم دغه شوق او مینې دا د پېښور

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21



یونیورسټی په پښتو شعبه کښې د داخلې د پاره مجبوره کړه چې ددغه ځایه دوي په کال ۱۹۷۸ء کښې د ایم - اے پښتو ډګري تر لاسه کړه - د ایم - اے پښتو کولو نه پس ئې په پښتو اکېډیمی ورته په دې سلسله کښې ډېر سازګار ماحول ورکړو - اؤ دغلته د دوي دې فطري جذبې نوره هم ځله اؤمونډله اؤ د دوي د ادبي ذوق ملغلره نوره هم په پړقېدو شوه"-[۱]

لکه چې وړاندې ذکر وشو چې سلمیٰ شاهین په ګڼو اصنافو کښې لیک کړے دے- د هغې ګڼ شمېر کتابونه چاپ دي چې پکښې روهي سندرې ، تورسرې ، د پښتو ټپې ، کۀ رڼا شوه ، د افسانو مجموعه اؤ درې شعري مجموعې نوے سحر ، زۀ هم هغسې وړه وے ، اؤ راؤیل شامل دي - دلته مونږ د هغې په شاعرئ بحث کوو اؤ په ناؤل ، افسانه اؤ نورو خدماتو به ئې هم بحث کولے شي - البته د هغې د مجموعي جذباتو په حقله د همېش خلیل صاحب داسې لیکي!

"د تحقیق اؤ اشاعت په حواله پښتو اکېډیمی کښې د سلمیٰ شاهین د ملازمت په دوران چې کوم کار شوے دے اګر کۀ هغه د ذکر شوي اکېډیمی د یو ډائریکټر دوو د کار نه علاؤه په نورو ټولو درونډ دے - ولې بیا هم دغه سلسله کښې د پښتو اکېډمی بنیادي مقصد یعنې تحقیق نه پرته د مقدار زیاتولو په هڅه ځنو غېر تحقیقي اؤ غېر معیاري کتابونو اشاعت ته کوم اهمیت ورکړے ؤ- هغه نۀ وه پکار - سلمیٰ شاهین د یوې محققې ، شاعرې اؤ ناؤل نګارې په حېثیت پښتو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

> زنانه ليکوالو کښې يو لوئې نوم دے - د پښتو ادب پخپل هر صنف کښې د فني تقاضو د خيال ساتلو تر خپله وسه د کوشش سره ځنې حقيقتونه هم پخپلو ادبي افکارو کښې په زړۀ پوري انداز خپل کړے دي - د خپل ادبي زيار اؤ کار صداقت چې د سلمۍ ادبي اؤاز ته کوم حرمت ورکړے دے هغه د شاهين پرواز دے"۔[۲]

نوے سحر د سلمۍ شاهين د ابتدائي شاعرۍ مجموعه ده - د هغې د شاعرۍ دويمه مجموعه د "زړۀ هم هغسې وړه وے" په نوم په کال ۱۹۹۶ء کښې چاپ شوې ده - ددې مجموعې په تعارفي خبرو کښې سلمۍ شاهين بي بي د خپلې شاعرۍ پس منظر داسې څرگندوي -

> " زړۀ هم هغسې وړه وے" زما د شاعرۍ دويمه مجموعه ستاسو وړاندې ده - ددې نه وړاندې زما د شعرونو مجموعه "نوے سحر" دولس کاله مخکښې چاپ شوې ده - زړۀ د خپلو لوستونکو اؤ هغه ادبي ملگرو منه کوم چې په "نوے سحر" ئې زما ډېره حوصله افزائي اؤکړه - ډېرې تبصرې اؤ تنقيدونه د مختلفو رسالو اؤ اخبارونو په پاڼو کښې ښکاره شو - په دغه مجموعه تبصره اؤ تنقيد کوونکو په روغ نيت زما د شعر فني کمزورو ته هم اشاره کړے وه - ولې زما د پاره د خوشحالۍ خبره دا وه چې زما شعرونو خلقو د زړۀ په مينه اؤلوستل اؤ ما د هغوي تنقيد د زړۀ په مينه قبول کړو اؤ عمل مې پرې هم اؤکړو - خو زما په خيال شعر

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

> یو فطري عمل دے چې د بنده د داخل سره تعلق لري کۀ دنیا ورته پۀ هره سترګه ګوري خو شاعر ورته پۀ خپله سترګه ګوري - ښۀ وي اؤ کۀ بد شعر د شاعر خپل وي که د بهر - ګوذار اؤخوري وي زخمي خو د خوږ احساس هیچرې هم د هیریدو نۀ وي"-[۳]

ددې مجموعې پۀ شاعرۍ ډاکټر راج ولي شاه خټک یوه سریزه هم لیکلې ده چې سلمۍ شاهین بې بي د خپل دریم کتاب راؤېل سره هم شامله کړے ده - ډاکټر راج ولي شاه خټک پۀ دغه سریزه کښې د سلمۍ شاهین د شاعرۍ پۀ حقله لیکي!

> "مونږ وایو چې هره پښتنه پۀ فطري ډول شاعره ده اؤ دا ځکه وایو چې مونږ سره پۀ ادب کښې د ټپې پۀ شان یو نادر صنف موجود دے اؤ ددې صنف نۀ یواځې دا چې شاعره ښځه ده بلکې امانت داره ئې هم ښځه ده - د ټپې یو زور اؤ شدید احساس د هرې پښتنې پېغلې سره شته دے اؤ دا خبره پۀ خپله د یو شاعرانه احساس ترجماني کوي - اګر چې سلمۍ شاهین پۀ پښتو ټپه ډېر کار کړے دے - ځۀ خواؤشا دېرش زره ټپې نۀ یواځې راجمع کړے اؤ پۀ دوؤ غټو جلدونو کښې د اکېډیمۍ لۀ خوا شائع کړے دي بلکې د ټپې مضامین د هغې پۀ درجه بندۍ اؤ پۀ تهذیب کښې د ټپې د اثر اؤ نفوس پۀ حقله ئې هم ښې تحقیقي مقالې هم لیکلې دي - پۀ دے حساب هغه د ټپې د هر تاثر نه پۀ ښۀ شان خبر ده - ولې بیا هم د شاهین شعرونه زیات تر د ټپو د تاثر لاندې لیکلي شوي نۀ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

ښکاري اؤ نهٔ د پښتني فولکلور د سندرو د تاثر د اثر څهٔ خاص پس منظر پکښې پهٔ نظر راځي - کهٔ چرې فوکلور، اجتماعي احساس ترجماني کو نو د سلمیٰ شاهين تخليقات بيخي يو انفرادي اؤ د داخليت اظهار دے"۔[۴]

ډاکټر راج ولي شاه خټک د سلمیٰ بي بي د شاعرئ د موضوع اؤ داخليت پهٔ حقله پهٔ دغه سريزه کښې وړاندې ليکي!

"محترمه سلمیٰ شاهين زما پهٔ خيال پهٔ دے وجه هم د ستائنې اؤ دا د مستحقه ده چې غالباً هغه زمونږ د عصر ړومبئ پښتنه شاعره ده چې د داخليت د اظهار جرات ئې کړے دے - د هغې پهٔ نظمونو کښې اکثر داسې احساس پهٔ نظر راځي چې عام طور ئې څرګندول ډېر ګران وي - ولې فنکار سره چې کومه ژبه ده کومه وسيله ده - هغې کامياب استعمال پهٔ چل سلمیٰ پوهيږي - زهٔ دا منم چې دغه ټول کيفيات اؤ اکثر چې ماته پکښې هم د محرومئ اؤ هم د اعتماد اؤ د برترئ د احساس نخښې پهٔ نظر راځي - کيدے شي چې دا د سلمیٰ د دور د هرې پښتنې پېغلې نفسياتي اساسه وي ولې کهٔ نورې پښتنې د خپل زړهٔ حال د ودونو پهٔ رسمونو کښې يا د ګودرونو پهٔ مازيګرو کښې د ټپې پهٔ ژبه وائي نو سلمیٰ شاهين د خپل انداز پهٔ يوه خاصه پيرايه اکثر پهٔ ازاد نظم کښې بيانوي، کيدے شي اؤ غالباً چې داسې ده چې دا احساس اؤ دغه رنګه نور جذبات د سلمیٰ اؤ د نورو پښتنو پېغلو سره مشترک وي خو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

خبره د فن ده ، د پوهي ده اؤ د جرات ده - ما پهٔ شاهين کښې هم فن ليدلے دے هم پوهه اؤهم جرات لکه دا نظم ”-(۵)

سلمئ شاهين د شاعرۍ پهٔ ګڼو اصنافو کښې طبع ازمائيلې ده خو په ازاد نظم کښې ئې ځانګړے مقام پېدا کړے دے - اروا ښاد افضل رضا صاحب د هغې د نظم نګارۍ پهٔ حقله ليکي!

" سلمئ شاهين زيات تر ازاد نظمونه ليکلي دي اؤ پهٔ دې برخه کښې د خپل روښانه فکر ، حساس زړهٔ اؤ شاعرانه صلاحيتونو څرګندونه ښهٔ پهٔ کامياب ډول کوي - هغه سوچه سپېڅلي احساسات رمزي اؤ ابهامي کيفياتو ته نه سپاري اؤ د اسلوب پهٔ نزاکتونو پسې نه ګرځي - د هر نظم نه ئې دا معلومېږي چې د خپلو جذباتو صداقت اؤ خلوص ورته ډېر پهٔ شدت قلم لاس کښې ورکړے وي چې هله به نور څهٔ کوي چې اؤل را ډک شوے زړهٔ سپک کړے اؤ د کاغذ پهٔ مخ د خپلو سپېڅلو جذباتو اؤ ناقلاره کيفياتو عکاسي د زړهٔ راښکونکي نظم پهٔ شکل کښې وکړے - د دې د پاره هغه د قافيې اؤ رديف پابندو ته هم وزګاره نه شي - بس پهٔ ساده انداز کښې پهٔ سوچه اؤ ساده پښتو کښې د پښتو ازاد نظم پنګې ته يوه نه يوه قيمتي فن پاره وسپاري - د سلمئ شاهين پهٔ نظمونو کښې د جدت اغيزې ښکارې خو ددې د پاره هغه رومانيت اؤ روايت نه څنګ نه کوي - د ژوند د کشمکش اؤ نظرياتي جدوجهد جوتې علامې د هغې پهٔ شاعرۍ کښې شته -

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

د هغې پهٔ شاعرۍ کښې مقصدیت مرکزي حېثیت لري - عن تر دې چې هیئت او اسلوب هم خپل مقصدیت ته لوګے کوي - د هغې د روښانه ذهن مقناطیسي قوت د پښه تر ازاد نظم ته ډېر څهٔ ورکړے - خو ددې ډېر څهٔ چې جائزه واخستے شي نو داسې محسو سیږي چې دا د یو تل عمري محرومتیا احساس دے - چې اکثر د ګیلو اوساندو پهٔ شکل کښې رابرڅېږه شي - د حد درجې درون بیخي ده چې زمونږه شاعره پهٔ خپل ذات کښې ډوبه کړے او تخلیقي قوت وروبخښي".[۶]

د سلمیٰ شاهین پهٔ نثري لیکونو کښې پهٔ مجموعي توګه او پهٔ شاعرۍ کښې پهٔ خصوصي توګه د ښځینه نفیساتو او سماجي مسئلو ترجماني شوې ده . کله چې مونږ پهٔ پښتنه معاشره کښې د ښځو د نورو سماجي مسئلو خبره کوو نو لکه د سیده بشریٰ بېګم او زیتون بانو بي بي زمونږ د عصر شاعره سلمیٰ شاهین هم یوه داسې شاعره ده چې د پښتنو جدیدو شاعرانو پهٔ وړومبي صف کښې ولاړه ده او د پښتنو مېرمنو د ګڼ اړخیزو سماجي مسئلو او نفسیاتو ترجمانۍ ئې پهٔ خپله شاعرۍ کښې کړے ده - د سلمیٰ بي بي د وړومبي کتاب "نوے سحر" زیاته شاعري د هغې پهٔ دویمه مجموعه "زهٔ هم هغسې وړه وے" کښې راغلې ده او بیا ددغه دویمې مجموعي شاعري ئې زیاته پهٔ درئمه مجموعه راؤیل کښې راغلې ده ځکه مونږ د هغې کتاب " زهٔ هم هغسې وړه وے" نه زیاته استفاده کوو - لکه څنګه چې وړاندې د زیتون بانو بي بي د یو نظم "ښځه" پهٔ عنوان د ښځینه نفسیاتو د ترجمانۍ د پاره یوه نمونه وړاندې کړے شوې ده دغسې سلمیٰ بي بي هم د "ښځه" د عنوان لاندې یو نظم لیکلے دے چې پکښې ئې د یوې ښځې نفسیات بیان کړے دي او ښځه ئې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

پهٔ مختلفو کردارونو اؤ رشتو کښې پېش کړے ده - د هغې دغه نظم پهٔ دې ډول دے -

" اے نازکې ګل اندامې د حوا
لور
څومره ګران د کائناتد تخليق
کار دے
خو پهٔ دې ئې تهٔ خوشحاله چې
به مور شم
دا جنت چې دې د پښو لا ندې
ښکاريږي
تا ساتلے دے پهٔ مينهوايه چا
له
هم هغهٔ له چې پهٔ دې هم نهٔ
پوهيږي
ښځه مور ده ، ښځه خور ده ،
ښځه لور ده
ښځه نور د کائنات دے
خو زما د قام ګلونوښائستهٔ
جونو
پهٔ قسمت کښې مو څهٔ شته دے
کهٔ سيياکو له پېدا ئې
ګير چا پېره نظر وکړئ
د ادم زامن جابر دي
کله پلار شي مجبوريږي
کله رور شي بيا خرڅيږي
پهٔ محفل کښې چې ګډيږي
برندې غونډې چورليږي
دا دې خور ده
دا دې خور ده
دا ترې هېر وي چې اے مورې
تا خوارې وه ما له کړے
کهٔ پهٔ تن مې جامه نهٔ وه
تا وه ما له پېدا کړے
کهٔ دې زړهٔ د لوږې شين وو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21
ماخذ تحقیقی مجلہ

زما غم به ژړولي
تا ګنډلي تا وينځلي
خو زما د ژوند د پاره
هره سخته دې زغمله
زما پلار د مجبورۍ نه
ته په ډاګه پريښودلې
د چا بلې خوږې غېږ کښې ئې د
ژوند نغمې وئيلې
ته يواځې ته يواځې ته يواځې
يو د لوبو ګوډاګې و پېده د
پاره
خو عظيمې د چا مورې
قدرمنې د چا خورې
په پردو دننه پټې
ستا حيا سره لوبيږې
نه شرميږې نه شرميږې" (۷)

سلمیٰ بي بي د يوې وړې نوکرۍ په شکل يو خوا خو د يوې معصومې پښتنې جذبات بيان کړې دي اؤ بلخوا ئې ورسره د خپل ذات په شکل کښې د يوې پښتنې اسوده حال تورسرې موازنه کړې ده اؤ دغسې ئې په خپل نظم "زما وړه نوکره" کښې د پښتنې ټولنې دوه ښځينه کردارونه وړاندې کړې دي - دغه نظم کښې سلمیٰ بي بي وائي!

"ما وي
ته زما نه ښه ئې
پاکه ښاکه فرشته ئې
زۀ دې حسن ته حيرانه
چې دَ ګل هسې ښائسته ئې
په دې توره اؤ شليدلې لوپټه
کښې
خدائې ته ټيټه په سجده ئې
په دومره غريبۍ کښې
اؤ زه چې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21

ماخذ تحقیقی مجلہ

تر غرمې پورې اؤدۀ يم
په دومره فراغت کښې
ناشکرۍ دَرب کومه
خدمتونه هم کوې
فرائض پوره کوې
اؤ زۀ بيا دې هم رټمه
سترګې سپورې هم کومه
اُف خدايه لويه خدايه
عجيبه دې دا دنيا دۀ
څومره ژوند کښې ئې سکون دے
عجيبه هم ستا تقسيم دے
زۀ دَ ژوند هم ويزاره
نه پۀ حق دَچا پوهېږم
نه فرض عبادت شته
په دا دومره زولنو کښې
دَ وختونو ګرفتاره
هم دَفرضو نه ويزاره
زما لويه خدايه پاکه
چې زۀ هم ددې پۀ شان وے
صبرناکه تابعداره" (۸)

د سلمئ بي بي پۀ شاعرۍ کښې د ښځينه نفسياتو اؤ سماجياتو ډېرې نمونې موجودې دي خو دلته د هغې مشهور نظم "د هغسې وړه وے" پېش کول غواړم پۀ کوم خښې ئې چې د پښتون سماج د يوې معصومې جينۍ د جذباتو ترجمانې د ماضې په آئينه کښې کړې ده اؤ پۀ خپل ذات کښې ئې دا ارمان کړے دے چې کاش زۀ هم هغسې وړه وے چې د هم هغسې معصومو اؤ پاکو جذباتو اؤ نفسياتو ترجمانه وے اؤ د سماج د ناؤړه روئيو نه هډو خبر نۀ وے- هغه خپل دغه ښکلې نظم کښې د ذکر شوو معصومو اؤ سپېڅلو جذباتو اظهار پۀ داسې انداز کښې کوې-

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21



"پهٔ ساعت کښې مې ژړلے پهٔ ساعت کښې مې خندلے
چې پهٔ ځان نهٔ پوهېدلے زهٔ هم هغسې وړه وے
ژوند د اوړي سره غرمه وے اؤ دنیا پهٔ خوب اؤده وے
چې پهٔ پټه پاسیدلے زهٔ هم هغسې وړه وے
اؤس هم نمر پهٔ غرغره وے اؤ همزولے راسره وے
پټ پټونے مو کولے زهٔ هم هغسې وړه وے
نهٔ مې ویره وے نهٔ ترهه بې پرسانه گرزیدلې
پهٔ ټالونو ځنګېدلے زهٔ هم هغسې وړه وے
چندرو ګانې مې کولے باډیوې مې خېژولے
پهٔ کوټو باندې ختلے زهٔ هم هغسې وړه وے
زهٔ د کوره بې پروا وے اؤ خوشحاله پهٔ صحرا وے
ما ګوډیانې لوبولے زهٔ هم هغسې وړه وے
نهٔ مې کار وے پهٔ وهلو نهٔ مې کار وے پهٔ رټلو
چې د موره تښتېدلے زهٔ هم هغسې وړه وے
چې بهٔ تندر د غم پرېوزي دا احساس هم راته نهٔ وے
کورکي مې جوړولے زهٔ هم هغسې وړه وے
د فکرونو د طوفانه د فرېب ډکې دنیانه
چرته لرې اؤ سیدلې زهٔ هم هغسې وړه وے
زهٔ د ګل یوه کلۍ وے خو نظر د ګلچین نهٔ وے

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21



پـۀ چـمـن کـښـې غـوړېـدلـے زۀ هم هـغـسـې وېره وے
لـکـه اؤس چـې راتـه ګـوري داسـې نـۀ راتـه کـتـلـے
مـور اؤ پـلار مـې خـنـد پـدلـے زۀ هم هـغـسـې وېره وے
بـس د مـيـنـې پـۀ دنـيـا کـښـې څـو خـوارۀ خـوارۀ مـلـګـري
شـاهـيـن خـوا کـښـې مـې لـيـدلـے زۀ هم هـغـسـې وېره وے”⁽⁹⁾

ددې بـره بـحث پـه رڼـا کـښـې مـونـږ پـه دې نـتـيـجـه رسـو چـې ډاکـټـر سـلـمـې شـاهـيـن دشـلـمـې پـېـړۍ يـوه بـاشـعـوره او زيـرکـه شـاعـره ده. د هـغـې ددغـه څـانـګـړنـوبـنـيـادي وجـه د هـغـې دجـديـد تـعـلـيـم حـصـول دے، او ددې پـه بـرکـت هـغـې تـه د اظـهـار يـوه لـويـه حـوصـلـه پـه لاس ورغـلـې ده. چـې هـغـې تـه ئـې دا جـسـارت او جـرات وربـخـښـلـې دے چـې هـغـه دې د خـپـلـې ټـولـنـې د سـتـونـزو عـکـاسـي پـه ډاډه زړه وکـړي. دا نـه بـلـکـې پـه پـښـتـنـه ټـولـنـه کـښـې د سـمـاجـي سـتـونـزو سـره مـخ بـې زبـانـه ښـځـې تـه دې د اظـهـار ژبـه ورکـړی. دا د سـلـمـې بـې بـې يـوه لـويـه کـارنـامـه ده چـې پـه خـپـلـه شـاعـری کـښـې د پـښـتـنـو زنـانـه ؤ سـتـونـزې او نـفـسـيـاتـي کـشـالـې پـه ډېـره بـې بـاکـی او زړورتـيـا سـره بـيـان کـړي.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 4, (Oct to Dec 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-IV)urdu-21



## حوالہ جات

(۱) شاہ جہان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ،پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، ۱۹۹۳ء ، ص: ۳۷۳، ۳۷۴

(۲) خليل، همېش ، پښتانۀ ليکوال (دويم ټوک) ، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۱۱ء ، ص: ۲۹۳

(۳) شاهين، سلمي ، زۀ هم هغسي وړه وے ، ملت پرنټرز لاهور، ۱۹۹۶ء ،ص: ۱۱

(۴) خټک، راج ولي شاه ، ډاکټر (مقدمه) مشموله ، زۀ هم هغسي وړه وے ، ص: ۷، ۸

(۵) ايضاً ، ص: ۸، ۹

(۶) رضا، افضل ، پروفېسر ، پنځه شمعې ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۶ء ، ص: ۴۲۸، ۴۲۸

(۷) شاهين، سلمي ، زۀ هم هغسي وړه وے ،ص: ۵۸، ۵۹

(۸) ايضاً، ص: ۶۵، ۶۶

(۹) ايضاً ، ص: ۱۰۲، ۱۰۳